شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

مولوی ذبیح الله مجاهد:

به رسمیت شناسی ا.ا. توسط روسیه گام جسورانه در زمان مناسب بود

مولوی ذبیح‌الله مجاهد سخنگوی ا.ا. افغانستان می‌گوید، اقدام روسیه برای به رسمیت‌شناسی حاکمیت دوباره ا.ا. افغانستان، گام «جسورانه در زمان مناسب» بوده است.

آقای مجاهد این مطلب را در گفت‌وگو با خبرگزاری «ریانووستی» از رسانه‌های دولتی روسیه که به نشر رسید، بیان کرده است.

سخنگوی ا.ا. افغانستان افزوده، اقدام روسیه می‌تواند نقطه‌ای عطفی در مسیر به رسمیت‌شناسی بین‌المللی ا.ا. افغانستان و بهبود اقتصادی کشور باشد. او گفته است: روسیه در این مسیر زمینه‌های گسترده‌ای از فرصت‌ها را فراهم کرده و ما امیدواریم کشورهای دیگر نیز از این اقدام الگو بگیرند.

مولوی ذبیح‌الله مجاهد ابراز امیدواری کرده که با پیشرفت در روابط دوجانبه سیاسی و اقتصادی زمینه همکاری‌های بیشتر در حوزه‌های تجاری، زیربنایی و دیپلماسی در سطح منطقه، فراهم شود. دولت روسیه به‌عنوان نخستین کشور، پنج‌شنبه‌شب، اعلام کرد که حاکمیت دوباره ا.ا. افغانستان را به رسمیت می‌شناسد.

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۵ ګڼه / یکشنبه د محرم‌الحرام ۱۰ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱۵مه ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ٦ مه ۲۰۲۵ میلادي

ملا برادر:

د باکو له نړیوال بحري بندر څخه دې د افغاني توکو لېږد ته اسانتیاوې برابرې شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر پرون د اذربایجان هېواد د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه کړې ده.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د خبرپاڼې له مخې ملا برادر اخوند د دغه بندر امکانات او د انتقالاتو بهیر له نږدې لیدلي او له اذربایجاني مسئولینو یې غوښتي، چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې د باکو نړیوال بحري بندر او د وسپنې پټلۍ مسئولینو د دې لیدنې پرمهال ویلي چې د یاد بندر له لارې ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي توکو، کرنیزو محصولاتو او کاني توکو صادراتو ته ... ۳مخ

پروژه حفظ و مراقبت بند «سلطان» آغاز شد

وزارت آب و انرژی می‌گوید، کار عملی پروژه ساخت بند «سلطان» در مربوطات ولایت غزنی به هزینه ۱۰۹ میلیون افغانی توسط ملا عبداللطیف منصور، سرپرست این وزارت آغاز شد.

به گفته وزارت آب و انرژی، با ذخیروی آب آن از ۹ میلیون متر مکعب به ۱۳ میلیون متر مکعب افزایش خواهد یافت.

ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی در مراسم آغاز کار این پروژه گفت، خوشبختانه در نتیجه تلاش‌های ا.ا. افغانستان

تطبیق این پروژه ارتفاع بند از ۳۵ به ۳۷ اعشاریه ۵ متر و ظرفیت نظام شرعی، امنیت، انکشاف، اقتصاد، وحدت قومی ... ص۳

ورود نزدیک به ۴۰ هزار مهاجر افغان در یک روز به کشور

مقام‌های محلی ولایت هرات می‌گویند، ورود مهاجرین افغان به این ولایت ریکورد جدید بسته و در یک روز ۳۸ هزار تن از ایران وارد کشور شده‌اند.

دفتر مطبوعاتی مقام ولایت هرات با نشر خبرنامه‌ای از برگشت این تعداد از مهاجرین در یک روز به کشور خبر داده است.

بربنیاد معلومات نشرشده، برای رسیدگی به این تعداد مهاجرین، علاوه از غذا ... ص۳

کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین فراخوان کمک به مهاجرین برگشته سر داد

با تشدید اخراج‌اجباری مهاجرین افغان از ایران کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین خواهان کمک تاجران و بنیادهای خیریه به مهاجرین برگشته شد.

بربنیاد بیانیه، با آنکه برای مهاجرین برگشته به کشور در کمپ موقت خدمات اولیه از جمله آب، غذا و پول نقد ۲ هزار افغانی برای هر عضو فامیل اهدا می‌شود، اما شمار برگشت‌کنندگان بیشتر از انتظار است. ص۳

هلمند کې ۱۰۵ میله وسلې او سلګونه پوځي تجهیزات نیول شوي

د کورنیو چارو وزارت په تېرو دوو میاشتو کې د ځانګړو عملیاتو په ترځ کې د ۱۰۵ میله بېلابېل ډوله وسلو او ګڼ شمېر پوځي تجهیزاتو له کشف او ضبط څخه خبر ورکړی دی. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، دغه عملیات له ترهګرۍ سره د هلمند امنیې ... ۳مخ

روسیې څه وپېژندل؟ د اسلامي امارت واقعیت او د سیاست نوې نقشه ۲مخ

د کابل – مسکو اړیکې: د اسلامي امارت نړیوال رسمیت ۲مخ

سرمقاله

زخم‌های هموطنان برگشته را التیام بخشیم

هجرت و یا هم مهاجرت به طور کلی به معنی ترک یک مکان و رفتن به مکان دیگر است . در عرف و باور دینی، هجرت به ترک سرزمین و رفتن به سرزمینی دیگر به منظور حفظ و تقویت اعتقادات و باور های دینی است.

مهاجرت نیز به معنی، تغییر محل مسکونی از یک کشور به کشور دیگر که معمولاً این هجرت‌ها به دلایل مختلف اقتصادی، اجتماعی یا هم سیاسی صورت می گیرد.

افغانستان در نیم قرن اخیر، شاهد تجاوز و لشکرکشی بلوک شرق و غرب بود که این تهاجمات و تجاوزات نظامی در پی تسخیر سرزمین ما ، هزاران درد و آلام را بر مردم دردمند ما، تحمیل کرد که یکی از این دردها و دشواری‌ها، هجرت هموطنان ما به کشور های همسایه، منطقه و جهان بود، البته ناگفته نباید گذاشت که میزبانی مردم افغانستان برای کشورهای میزبان، علاوه بر مشکلات اجتماعی و اقتصادی، منفعت های مضاعف مالی ، سیاسی و حتی، تسلیحاتی نیز به خصوص در دور نخست جهاد مردم افغانستان، برای میزبانان داشت، اما ویژه گی جهاد و مبارزه مردم افغانستان در آن دوره ، با ابر قدرتی بود که جهان به ویژه همسایه های ما از موجودیت، وسعت سرزمین و قدرت نظامی اش در هراس بودند، همچنین در دور دوم مبارزات شان نیز با قدرت‌هایی به جهاد پرداختند که حضور و موجودیت آنان نیز در افغانستان، کشور های همسایه ما را نه تنها، نگران و مضطرب ساخته بود، بلکه خطر قریب الوقوع را نیز متوجه شان نموده بود، اما این مردم آزاده و مجاهد افغانستان بودند که متجاوزان را در دو دور ، در داخل کشور قلع و قمع نمودند ، مجالی برای آنان ندادند تا طرح های مخوف خود در بیرون از افغانستان را تحقق بخشند.

هرچند مردم افغانستان، هیچگاهی حمایت کشور های همسایه به ویژه ایران و پاکستان را که در روز های دشوار از افغانان میزبانی کردند، فراموش نمی کنند، اما انتظار اتهام بستن های واهی و بی‌اساس را که در شأن یک ... ص۳

د بغلان ولایتي روغتون کې ۵ زره ۵۳۸ وړیا جراحي عملیات شوي

د عامې روغتیا وزارت ویلي چې له تېر یو کال راهیسې بغلان ولایتي روغتون کې د افغان ډاکترانو له لوري ۵ زره ۵۳۸ وړیا او بریالي جراحي عملیات شوي دي.

د روغتیا وزارت په ابکس‌پاڼه لیکل شوي، چې په دغو عملیاتو کې ۲ زره ۲۳۳ ستر او ۳۳۰۵ کوچني جراحي عملیات شامل وو.

د خبرپاڼې له مخې چې د عامې روغتیا وزارت اړوند په یاد روغتون کې همدا راز ۱۹۶ زره ۹۷۴ کسانو ته وړیا سراپا ((OPD)) او ۲۱ زره ۷۸۵ ناروغانو ته داخل‌بستر ((IPD)) خدمات وړاندې شوي دي.

له دې مخکې هم د هېواد په بېلابېلو روغتونونو کې د افغان ... ۳مخ

کشف‌وضبط‌محموله یک‌هزار و ۵۰۰ کیلوگرامی تریاک در تخار

مقام‌های قوماندانی امنیه ولایت تخار بار دیگر از کشف‌وضبط یک محموله حاوی یک‌هزار و ۵۰۰ کیلوگرام مواد مخدر نوع «تریاک» در مربوطات این ولایت خبر می‌دهند.

نظام‌الدین عمیر، سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت تخار با نشر خبرنامه‌ای از کشف‌وضبط این مقدار مواد مخدر، خبر داده است.

به گفته آقای عمیر، این محموله مواد مخدر که در یک عراده تانکر گاز بگونه ماهرانه جاسازی شده بود، در نتیجه راه‌اندازی عملیات توسط منسوبین مدیریت مبارزه با مواد مخدر قوماندانی امنیه ولایت تخار، کشف و بدست آمده است.

در خبرنامه آمده که به اتهام انتقال محموله یادشده یک باشنده ولایت بدخشان از سوی پولیس بازداشت شده است.

پولیس تخار در مورد محل دقیق کشف‌وضبط محموله یادشده چیزی نگفته است.

هنوز معلوم نیست که تریات بدست‌آمده به هدف انتقال به کجا در تانکر گاز بارگیری شده بود.

د پاکستان حکومت د پي‌او آر کارتونو پر تمدید غور کوي

په پاکستان کې د ۱،۴ میلیون افغان کډوالو د «پي‌او آر» کارتونو د مودې له ختمېدو وروسته د یاد هېواد حکومتي چارواکو ویلي، چې د دغو کارتونو د تمدید پر موضوع کار روان دی.

په پاکستان کې ۱،۴ میلیون افغان کډوال((POR)) کارتونه لري چې موده یې د تېرې جون میاشتې په ۳۰مه پای ته رسېدلې. ۳مخ

اسلامي هېوادونه دې د ۱.۱.۱ د رسميت پېژندنې برخه کې مخکښ شي

د مســلمانو علماؤ د نړيوال اتحاد رييس، دکتور محيي الدين علي القره داغي د روسيې فدراسيون لخوا د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې په تړاو ليکلي:

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت وياند له قوله مې عاجل خبر ولوست: د روسيې سفير په کابل کې خپل افغان سيال ته د مسکو له خوا د طالبانو د حکومت د رسميت پېژندنې پرېکړه رسماً اعلان کړه.

موږ د دې ســم او پرځای تصميم له امله د روسيې فدراسيون مننه کوو، دا اقدام په سمه لاره کې يو مهم ګام دی، چې د افغان ولس له ارادې ســره ښــکاره درناوی ښيي او د يو سياســي او امنيتي واقعيت عملي منل دي، داسې واقعيت، چې د افغانانو په خپله هڅه رامنځته شوی، نه د بهرنيو په وصيت.

موږ دا هيله درلوده او لا يې هم لرو، چې اســلامي هېوادونه دې د رســميت پېژندنې په برخه کې مخکښ شــي، موږ له ګڼ شمېر مشرانو او د بهرنيو چارو وزيرانو سره دا هڅې کړې دي، نن بيا هم خپله غوښــتنه تکراروو او په اســلامي هېوادونــو غږ کوو، چې په مناسب وخت کې دا سمه پرېکړه وکړي، ځکه وخت د چا انتظار نه کوي او تش ځايونه نور قوتونه ډکوي. موږ د مســلمانانو په توګه د يووالي، ملاتړ او بشــپړوالي ته اړتيا لرو، نه اختلاف، ځنډ او واټن ته. د اســلامي حکومتونو ترمنځ متقابل رســميت د تفاهم او درناوي پلونه جوړول، هغه يوازينی لاره ده، چې کولی شي د بهرنيو فشارونو پر وړاندې مقاومــت وکــړي او د انزوا او بې برخې کېدو هڅو مخه ونيســي. کــه موږ خپلمنځي رســميت و نه پېژنو او د خپلو ملتونو له ارادې راوتلي حکومتونه په رسميت ونه پېژنو، نو څنګه به له نورو تمه ولرو، چې زموږ له واقعيتونو پرته، موږ پر خپلو شــرطونو ومني؟ د اسلامي امارت حکومت د بهرنيو ټانګونو پر مټ نه دی راغلی، نه يې د بهرنيانو د پلوی تمه کړې، بلکې دا مشــروعيت يې له خپل ملــت، مقاومت او له هغه امنيت او ثبات نه ترلاسه کړی، چې له څو لسيزو ګډوډيو، جګړو او يرغلونو وروسته يې ټينګ کړی دی.

نو کله به دا زده کړو، چې اصلي رسميت له خپل منځه پيلېږي؟

او کلــه به د يو او بل دومره ملاتړ وکړو، چې نــور زموږ د ګټو پر ځای، زموږ د دريځونو درناوی وکړي؟ اوس وخت را رسېدلی، چې اســلامي هېوادونه په خپله د افغانســتان اســلامي امارت په رســميت وپېژني، نه دا چې موضوع د ظالمانه نړيوالو حسابونو او دوه‌ګونو معيارونو قرباني شي.

د کابل- مسکو اړیکې: د اسلامي امارت نړیوال رسمیت

محمد جاويد فدائي

له ۲۰۲۱م کال د اګست مياشتې راهيسې اسلامي امارت له يو ډول نړيوالي انزوا سره مخ و، چې د امريکا په مشرۍ د لوېديځو هېوادونو له لوري پرې بېلابېل سياســي او اقتصادي بنديزونه ولګول شول. بلخوا، د اســلامي امارت سياسي زغم، متوازن دريځ او ســتراتيژيکو هڅو په پايله کې بالاخره اوســنی افغان حکومت د نړيوال رسميت دروازې ته ورسېد.

د ۲۰۲۵ م کال د جــولای په دريمه د روســيې فدراســيون د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې پرېکړه اعلان کړه. دا اقدام چې د اســلامي امارت د سفير اعتبار ليک منل او د ترهګرو له ليسته د ياد حکومت ايستل شامل دي، نه يوازې د دوه اړخيزو اړيکو نوی باب پرانيزي، بلکې د سيمې د سياسي معادلو د بدلون نښه هم ګڼل کېږي. دا لومړی ځل دی، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا يو دايمي غړی او زبرځواک د اسلامي امارت قانوني حاکميت ته رسمي اعتبار ورکوي. د مسکو ډيپلوماتيک ابتکار بې له شــکه د نړيوالو اړيکو پر هينــداره ژور اغېز لري، چې د ځمکنيو واقعيتونو په رڼا کې يې خپله پاليسي عياره کړې ده.

د روسيې ستراتيژيکې محاسبې:

د مســکو پرېکړه نه يوازې احساســاتي بنه لري، بلکې له ژور ستراتيژيک تحليله سرچينه اخلي. د اوکراين جګړې، د لوېديځو بنديزونو او د نړيوال فشــارونو له امله روسيه هڅه کوي له غير لوېديځو دولتونو ســره خپل نفوذ پراخ کړي. افغانستان چې د منځنۍ آسيا په زړه کې پروت دی، د روسيې لپاره مهم امنيتي، ســوداګريز او جيوپوليټيک ارزښــت لري. د دغه رسميت له لارې، روســيه غواړي د افراطګرۍ، قاچاق، نشــه‌يي موادو او ناقانونه مهاجرتونو پر ضد همکاري وکړي او د يو بين‌الحکومتي ميکانېزم بنسټ کېږدي. په عين حال کې دا اقدام دا پيغام لري، چې د روسيې بهرنۍ سياست د لوېديځو ارزښتونو تر سيورې لاندې نه دی، بلکې د خپلواک ثبات‌محور اصولو له مخې پر مخ روان دی.

د منځنۍ آسيا غبرګونونه:

د روســيې نږدې ګاونډيان، لکه ازبکســتان، ترکمنســتان او قزاقستان له وړاندې له اسلامي امارت سره غير رسمي تعاملات لري. دا هېوادونه له افغانستان سره د سرحدي امنيت، سوداګرۍ او د اوبو وېش په څېر مهمې ګډې اندېښــنې لري. د روســيې پرېکړه به دغه هېوادونه وهڅوي، چې خپل تعاملات رســمي کړي، ترڅو ســيمه‌ييز سياســت ته همغږې بڼه ورکړل شي. د منځنۍ آســيا د ګډو پروژو لکه ټاپي، CASA-۱۰۰۰ او نورو سيمه‌ييزو ابتکاراتو پلي کول، له رسمي ډيپلوماسۍ پرته ناشوني دي. د دې لپاره اړوند هېوادونه مجبور دي، چې د روسيې پر پل قدم کېږدي.

د چين لپاره يو فرصت:

چين چې له اسلامي امارت ســره امنيتي او اقتصادي اړيکې لري، تر اوســه يې اسلامي امارت په رسميت نه دی پېژندلی، خو د روســيې اقدام بيجينګ ته دا پيغام ورکوي، چې د تعامل وخت را رسېدلی. د شانګهای سازمان او BRICS غړيتوب د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ همغږې تګلاره رامنځته کړې، چې ممکن د افغانستان په قضيه کې هم يو بل ته نږدې شي. چيني پانګوالې پروژې، لکه د مس عينک کان او د ســړک او کمربند پروژه د اوږدمهاله امنيت او ثبات لپاره رسمي اړيکو ته اړتيا لري. د دې ترڅنګ، د چين لخوا د روسيې اقدام ستايل دا په ګوته کوي چې ممکن چين هم ورته اقدام وکړي.

د ايران تدريجي بدلون:

ايران چې له اسلامي امارت ســره يې اړيکې نسبتاً د اسلامي امــارت لومړۍ واکمنۍ پر مهال عــادي دي، اوس له موجوده حکومت سره سرحدي، سوداګريز او کلتوري تعاملات پراخ کړي دي. تهران د واقعيت‌محور تعامل لور ته روان دی، چې د سرحدونو امنيت، د نشه‌يي توکو مخنيوی او اقتصادي فرصتونه يې لومړيتوبونه دي. د وروستيو سياسي دريځونو له مخې ايران هم ښــايي ډېر ژر د افغانستان اسلامي امارت رسميت اعلان کړي.

د لوېديځو هېوادونو چلينج:

اسلامي امارت د لوېديځ له‌خوا د ښځو د حقونو، د بيان آزادۍ او ټول‌شموله حکومت د نشتوالي له امله تر انتقاد لاندې دی، خو د تېرو شلو کلونو لوېديځو ناکامو تجربو ښودلې، چې پورتني تورونه هسې بهانې دي، چې د اســلامي امارت پر وړاندې د سپر په توګه کارول کېږي. د روسيې لخوا د رسميت پېژندنه دا پيغام لري، چې د نړيوال مشروعيت تعريف بايد د عمل، ثبات او ســيمه‌ييز ضرورت پر بنسټ وشي، نه يوازې د ايډيالوژيکو ارزښتونو پر بنسټ تعاملات وځنډول وشي.

پايله:

د روسيې له لوري د اسلامي امارت رسميت پېژندنه د يو نوي نړيوال‌سياسي واقعيت نښه ده؛ چې د سيمې په‌ژور جيو پوليټيک بدلون او د لوېديځو ارزښتونو له مطلق حاکميته د واټن اخيستنې ځرګندونه کــوي. دا اقدام که څه هم يوازې د يو هېواد له لوري ترسره شو، خو اغېزې يې څو اړخيزې او اوږدمهاله دي، چې له سيمه‌ييز ثباته نيولې تر اقتصادي همکاريو، امنيتي همغږۍ او د نوي ډيپلوماتيک نظم د بنسټ ايښودو پورې رسېږي.

پر همدې اساس، د اسلامي امارت لپاره يو نوی فصل پرانيستل شــوی دی. دا رســميت، که يو فرصت دی، نو مسئوليت هم دی. افغان حکومت ته په کار ده، چې د روسيې په شان له نورو هېوادونو سره هم اړيکې پراخه کړي او همدارنګه خپل کورنی مشروعيت لا ډېر پياوړی کړي، ترڅو د نورو هېوادونو ملاتړ هم را جلب شي.

د روسيې له پرېکړې وروسته تمه ده، چين، منځنۍ آسيا او ايران هم د اســلامي امارت رسميت پېژندنې په تړاو خپلو پاليسيو باندې يو ځل بيا غور وکړي. د يادونې وړ ده، چې نړيواله ټولنه د افغانستان نوې سياسي او ډيپلوماټيکه نقشه له نږدې څاري او دا د اسلامي امارت مسئوليت دی، چې دا فرصت يوه دايمي لاسته راوړنه وګرځوي.

د غزې جګړه؛ په لوېديځ کې د اسلام په لور د تمايل څپې زور اخيستی

ابو عمر

د غزې له جګړې سره هممهاله، په لوېديځو ټولنو کې د اسلام پر لور د تمايل څپې زور اخيستی. هغه څه چې مخکې يوازې يوه خاموشه لړۍ وه اوس يو ښکاره حرکت ګرځېدلی، چې حتی د يهودي الاصله امريکايانو زړونه يې هم اسلام ته مايل کړي دي.

عبراني تحليلي ويبپاڼې «ميکوميت» په يوه مفصــل راپور کې ليکلي، چې د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر له ۷مې (د طوفان الاقصی عملياتو) وروسته، د اسلام منونکو شمېر په امريکا، فرانسه، استراليا او ګڼ شمېر نورو لوېديځو هېوادونو کې په بې ساري ډول زيات شوی دی.

راپور وايي، له ۲۰۰۱م کال راهيسې تر يو ميليون زيات امريکايان اسلام ته داخل شوي، خو د غزې د جګړې له پيل سره دا بهير څو چنده ګړندی شوی دی. د لوېديځ ډېری ځوانان وايي، چې د غزې د مظلومو خلکو استقامت، صبر او قربانۍ د دوی زړونه ولړزول او دې ته يې وهڅول، چې د اسلام په اړه له سره فکر وکړي.

په فرانسه کې، چې د اروپا له هغو هېوادونو شمېرل کېږي، چې د مسلمانانو شمېر په کې ډېر کم دی، د اسلام منونکو نوی څپاند بهير راپورته شوی. د اروپا د اسلامي سازمانونو د ټولنې مشر عبدالله بن منصور وايي، چې د جګړې له پيل راهيسې، هره ورځ تر ۳۰۰ يا ۴۰۰ کسان اسلام ته داخلېږي، چې ډېری يې ځوانان دي. يوازې په دوو مياشتو کې نږدې ۲۰ زره فرانسويانو اسلام قبول کړی دی.

ياد راپور زياتوي، چې دا بدلون يوازې محدود نه دی؛ بلکې يو يهودي امريکايي پوليس، مايکل هم د غزې د جګړې او د اســرائيلو له لوري د ترســره شوي ظلم له امله اسلام ته مايل شوی. نوموړي په يوه مشهور پاډکست کې ويلي، د اکتوبر له اوومې وروسته د اسرائيلي پوځ کړنې د دې سبب شوې، چې د اسلام اصلي پيغام ته متوجه شي او بالاخره دا دين قبول کړي.

راپور ته په کتو، له رســنيو او تعصب څخه لېرې، ډېری لوېديځ خلک اوس هڅه کوي، چې اسلام خپلواکه وپېژني. هغوی وايي، د غزې خلکو زړورتيا او په ډېر سخت حالت کې د دوی توکل، صبر او دعاګانې دا ښيي، چې اسلام يوازې يو دين نه؛ بلکې يو ژوندی پيغام دی.

د ټولنيزو شــبکو له لارې هم ګڼ شــمېر ويډيوګانې خپرې شــوې، چې لوېديځ ځوانان، آن هنرمندان، د قرآن تلاوت کوي، د اسلامي ارزښتونو ستاينه کوي او آن مسجدونو ته د تللو پر مهال ژاړي.

د «ميکوميت» راپور پای ته رســوي، چې اسلام ته د لوېديځ د ځوان نسل تمايل د تبليغاتي تصويرونو پر ضد يو عملي غبرګون دی، هغوی نور يوازې د رسنيو له خولې نه؛ بلکې د مظلومو ولسونو له سترګو اسلامويني او دا ليدنه يې د ايمان دروازې پرانېزي.

روسيې څه وپېژندل؟ د اسلامي امارت واقعيت او د سياست نوې نقشه

محمد قاسم عزام

د ۲۰۲۵م کال د جــولای په ۳مه، د روســيې د بهرنيو چارو وزارت په رســمي ډول اعلان وکړ، چې افغانستان کې حاکم اسلامي امارت د يوه مشروع حکومت واقعيت په توګه پېژني. دا پرېکړه، که څه هم له ډيپلوماتيکو تعاملاتو سره تړاو لري، خو د نړيوال سياســت له زاويې يوه ژوره، هدفمنده او ستراتيژيکه تګلاره هم ده. د يوه داســې اســلامي نظام رسميت پېژندل، چې د اشــغال ضد جهاد له اوږده بهير وروسته حاکم شوی، د نړيوال سياست په تاريخ کې يو کم‌ساری تحول ګڼل کېږي. ياد تحول بايد يوازې د يو دولت له لوري د بل دولت د پېژندنې په چوکاټ کې محدود نه شــي، بلکې دا يو پياوړی سيګنال دی، چــې د نړيوال نظم د درک، قدرت د توازن او د دولتونو د مشــروعيت د تعريف په برخو کې ژور بدلون رامنځته کوي.

اسلامي امارت، چې له ۲۰۲۱م کال را وروسته يې د داخلي ثبات، اصول‌محور حکومتولۍ او بهرني متوازن سياســت له لارې خپل سياســي موقف پياوړی کړی، بالاخره داسې پړاو ته ورســېد، چې يو نړيوال قدرت، يعنې روسيې يې رسميت ومانه. دغه پېښه له يوه اړخه د امارت د سياسي تدبير يوه ستره پايله ده او له بلې خوا، د نړيوال سياســت په محاسباتو کې د يو نوي واقعيت اعتراف دی. دا رسميت نه يوازې د افغانستان د معاصر تاريخ يوه مهمه شــېبه ده، بلکې د اســلامي نړۍ د سياسي مبارزې لپاره يو نوی فصل هم پرانيزي.

اسلامي امارت، چې د اشغال پر وړاندې د يو اوږده مقاومت په پايله کې يو ځل بيا د هېواد سياســي واک تر لاســه کړ، د ۲۰۲۱م کال را وروســته تر ډېره د نړيوالو له خوا په رسميت و نه پېژندل شو. نړيوال سياست‌وال، په ځانګړې توګه لوېديځ هېوادونه، د امارت مشروعيت ته يا په شک وو، يا يې د خپلو شــرطونو تابع کول غوښتل. خو له دې ســره سره، امارت يو مســتقل، اصول‌محور او له داخلي ثبات سره ملت‌پال نظام ثابت کړ، چې له پيله تر اوســه يې نه يوازې امنيت او نظم را وست، بلکې د خپل بهرني سياست په برخه کې يې د زغم، خبرو او تدبير له لارې يې تعامل ته دوام ورکړ.

روســيه، چې د افغانســتان له جغرافيا، تاريخي اهميت او د اســلامي امارت له فکري ثبات سره پراخه تجربه لري، يو له هغو هېوادونو څخه و، چې له پيله يې له امارت ســره د تګ راتګ دروازې نيمه پرانيستې ساتلې وې. له څو کلونو مذاکراتو، د سفارتي ســفرونو، سيمه‌ييزو کنفرانســونو او استخباراتي تفاهمونو وروسته، دې هېواد له ټولو وړاندې تصميم ونيو، چې له تشو خبرو او مشاهداتو تېر شــي او امارت ته د يو رسمي دولت په سترګه وګوري. دا پرېکړه يوازې د افغانستان لپاره نه، بلکې د نړيوال نظم د تحول نښــه هم ده. د روسيې له نظره، اســلامي امارت يو واقعي، ثبات راوستونکی او مشروع نظام دی، چې د افغانســتان خاوره يې د داعشي ترهګرو له نفوذه پاکه کړې، د خپلو پولو امنيت ته ژمن دی او د منځنۍ آســيا له هېوادونو ســره د تاوتريخوالي په ځــای يې د اقتصادي او سياسي همکارۍ لاره نيولې. همدا راز، روسيه پوهېږي، چې د افغانســتان بې‌ثباتي، د سيمې امنيت ته مستقيم ګواښ دی او د داســې يوه نظام نه منل، چــې داخلي نظم، ملي يووالی او مذهبي حاکميت پالي، يوازې د لوېديځو لوبو تکرار دی.

د روســيې دا پرېکــړه هــم يو سياســي انګېزه لــري او هم ستراتيژيکه محاسبه. له سياسي اړخه، روسيه غواړي ځان د نړيوالــو قدرتونو په منځ کې د يوه واقع‌بين قوت په توګه ثابت کړي، چې د غرب له تقليد پرته، خپلواکه پاليسي تعقيبوي. له ستراتيژيکه پلوه، روسيه هڅه کوي، چې د منځنۍ آسيا، چين، ايران، پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د همغږۍ يوه محوره شــي، څو هم د امريکا له انحصاري نفوذه ځان وژغوري او هم د سيمې د اقتصادي، سياسي او امنيتي ثبات نقشې ته نوې بڼه ورکړي.

دا رســميت يــوازې د اســلامي امارت د يوه سياســي برې ځرګندونه نه ده، بلکې د نړيوالو سياسي معادلو يو نوی ابتکار او بدلون هم دی، چې د اســلامي سياســت د مشروعيت او د اســلامي نظام د حيثيت منل د يوه مهــم ګام په توګه ګڼل کېــږي. په نړيواله کچــه، ډېری ځواکمنو هېــوادو او نړيوالو ادارو تل داسې فکر کاوه چې اســلامي حکومتونه د نړيوالو سياســي معيارونو او نظامونو له خوا په رســمي توګه نه شي منل کېدای او د هغوی مشروعيت تړې ردېده، خو د روسيې دغه رسميت دا نظريه په بشپړه توګه ماتوي او څرګندوي، چې که يو اسلامي نظام د ديني اصولو، د حکومتولۍ شفافيت، د نظم او عدالت ســاتنې او د خپلــو خلکو د حقونو د خوندي کولو پر بنســټ ټينګ ولاړ وي، نو لوی نړيوال قدرتونه به هم په آخر کې اړ شــي، چې دا واقعيت ومني، له خپلو پخوانيو شرطونو او بنديزونو تېر شي او دغه نظام ته د رسميت ورکولو له لارې د هغه مشروعيت او ارزښت ومني. دا حالت نه يوازې د اسلامي امارت لپاره يو لوی سياسي لاس ته راوړنه ده، بلکې د ټول اسلامي امت لپاره يوه روښانه پيغام دی، چې د اصولو پر بنسټ ټينګ والی او صداقت کولای شي د نړيوال فشارونو او انکارونو پر وړاندې مقاومت وکړي او بالاخره خپل ځای د نړيوالو په صحنه کې ومومي.

همدا راز، د روسيې له خوا د اسلامي امارت رسميت پېژندل د لوېديــځ لپاره يو جدي او مســتقيم سياســي چيلنج ګڼل کېږي. دا پيغام په دې معنا دی، چې افغانســتان کې اسلامي امارت نور هغه منــزوي، انزوايي او غير فعال ځواک نه دی، چې يوازې د نړيوالو فشــارونو او د هغــوی د انکار په نتيجه کې بې‌اهميته پاتې شــي، بلکې اوس د نړيوال سياســت يوه فعالــه، تأثيرکوونکې او د ســيمه‌ييزو او نړيوالو چارو يو مهم لوبغاړی دی. له همــدې امله، که لوېديځ هېوادونه له خپلو پخوانيو تعصبونو، درواغجنې پاليسۍ او استکباري مفکورو ځان خلاص نه کړي، نو دا به د دوی لپاره د سيمې په سياسي، اقتصادي او امنيتي معادلو کې د پام وړ او تلپاتې زيان ســبب شي. د افغانستان اسلامي امارت د خپل مشروعيت، داخلي ثبات او ســيمه‌ييزو اړيکو پر بنســټ اوس داســې مقام ته رسېدلی، چې له سياسي لحاظه به د نړيوالو سياستوالو لپاره نه انکارېدونکې حقيقت وي. په دې صورت کې، د لوېديځ د کړنو دوام به د هغوی نړيوال اعتبار ته هم زيان ورسوي او د نړيوالې ټولنې په ســترګو کې به د هغوی رول او اثر کمزوری کړي. له همدې امله، اوس د نړيوال سياســت لپاره لازمه ده، چې د خپلو پاليســيو او دريځونو په جوړولو کې له واقعيتونو او د نړيوالــو حقايقو درناوی وکړي، د مغرضانه او تعصب پر بنسټ تګلارو ته پای ورکړي او د نړۍ د ټولو هېوادونو د متقابل احتــرام او همکاريو پر اصولو ولاړ يوه نوې مرحله پيل کړي. يوازې په همدې ډول کولای شي نړيوال نظم پايدار، عادلانه او د ټولو د ګټو پر بنسټ وي.

په لنډ ډول که ووايو د روســيې له خوا اســلامي امارت ته د رســميت ورکول، د امارت د اوږده سياســي صبر، د شرعي اصولو پر بنسټ استقامت او د هوښيار تعامل ستره پايله ده. دا تحول نه يوازې د افغان ملت لپاره يو بری دی، بلکې د ټولو هغو اسلامي حرکتونو لپاره يو درس دی، چې فکر کوي مشروعيت بايد له غير اسلامي قدرتونو وغوښتل شي. مشروعيت د امت له دننه راځي، رســميت د الله په نصــرت راځي او عزت د اصولو پر قربانۍ نه، بلکې د اصولو پر ثابت‌قدمۍ تر لاســه کېږي. روســيې هغه څه ومنل، چې واقعيــت و او دا خپله د نړيوال سياست يوه نوې مرحله ده.

افغان اعـــلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدین وسـیله به تاسـی ازفقره)۲(ماده چهل سوم قانون تدارکات و امریه نمبر(۸)مورخ۱۴۴۷/۱/۵ مقـام وزارت دفاع ملی به اطلاع عموم رسـانیده میشود اینکه ریاسـت تدارکات وزارت دفاع ملی در نظردارد قرارداد پروژه تهیه مواد و اجرای احجام پروسـه کاری امورات ساختمانی وشبکه برق اعمارسایبان ورکشاپ برای ریاست کشف واسـتخبارات سیاه سـنگ وزارت دفاع ملی از بابت سال مالـی ۱۴۰۴دارای نمبر تشـخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور سـاختمانی-۰۱۴۸-۲۵۱۰۵)را با شرکت ساختمانی عثمان غنی حنظلـه دارای جـواز نمبر(۹۹۵۳۹) بـه قیمت مجموعی مبلغ(۹۷۳،۰۲۰) نه صدو هفتادو سه هزارو بیست افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت(۷) روز تقویمـی طورکتبـی توام بـا دلایل آن به مدیریـت تدارکات امورسـاختمانی ریاسـت تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۱۳) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه {۵۰} قانون تدارکات ارائه نمائید.

ایـن اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبـوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدین وسـیله به تاسـی ازفقره)۲(ماده چهل سوم قانون تدارکات و امریه نمبر(۱۴۰۹)مـورخ۱۴۴۷/۱/۵ مقـام وزارت دفاع ملی به اطلاع عموم رسانیده میشـود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملـی در نظردارد قرارداد پروژه تهیه مواد و اجرای احجام پروسـه کاری امورات (سـاختمانی, شبکه برق و شـبکه آبرسانی بشمول فاضلاب داخلـی و خارجی) اعمار تعمیر سـه اطاقه برای بلوک دوم , تولی اول کندک مکانیزه لـوای دوم قول اردوی ۳۱۳ مرکزی واقع بند شاه و عروس ولسوالی شکردره ولایت کابل از بابت سال مالی ۱۴۰۴دارای نمبر تشخیصیه (وزارت دفاع ملی-۱۴۰۴-امور ساختمانی-۰۱۴۴-۲۵۱۰۵)را با شرکت ساختمانی وسرک سازی حضـرت صادقی دارای جواز نمبر(۹۵۸۶۵) به قیمت مجموعی مبلـغ(۱،۲۵۵،۵۱۱) یک میلیـون و دوصدو پنجـاو پنج هزارو پنجصدو یازده افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت(۷) روز تقویمـی طورکتبـی توام بـا دلایل آن به مدیریـت تدارکات امورسـاختمانی ریاسـت تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۱۳) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه {۵۰} قانون تدارکات ارائه نمائید.

ایـن اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبـوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه فروش عمده فروشی ادویه

محترم مهاجـر غنی سـهاک فرزند محمد غنـی ولدیت خدای دوسـت دارنده تذکره نمبر (۱۱۶۱۶- ۱۱۰۰ - ۱۳۹۹) مسـکونه اصلی ولایت پکتیا مالک عمده فروشـی ادویه غنی سـهاک واقع ناحیه دوازدهم ولایـت کابل و خواهان فـروش آن بالای محترم نصیر احمد فیضی فرزند فیض احمد ولدیت فیض محمد دارنده تذکره شماره (۲۵۵۸۰-۰۲۰۱-۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی که بالای عمده فروشی مذکور ادعای داشـته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به اداره ملی غذا وادویه افغانستان اطلاع دهند.۱۰۳

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسـامی محترم احمد شـهاب فرزند نقیب احمـد ولدیت فقیر احمد دارنده جواز نمبـر (۵۸۴۶) مورخ ۱۴۰۳/۲/۱۶ متصدی رهنمـای معاملات (احمد رمضانی) واقع (سـرک قصبه) ناحیه (۱۵) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشـر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۱۱۰

موضوع: نشراطلاعیه عام تصمیم اعطاء قرارداد شماره (۰۰۲٤) به شرکت محترم خدمات لوژستیکی میلاد نور.

بدینوسـیله به تاسـی ازفقره (۲) ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشـود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی درنظردارد قرارداد: تهیه و تدارک(۲۰) قلم از جمله (۲۷) قلم قرطاسیه باب ضرورت قطعات و جزوتامهای مرکزی از بابت سال مالی ۱٤۰٤.

تحـت شـماره داوطلبـی نمبـر(وزارت دفـاع ملـی-۱٤۰٤-اجناس-۰۰۲٤-۲۲۷۰۱) را به شرکت خدمات لوژستیکی میلاد نور دارنده جواز نمبر (D-71148) را به اسـاس امریه نمبر(۱۰) مورخ۱٤٤۷/۰۱/۰۵ مقام محتـــــــرم معاونیت اول وزارت دفاع ملـی به قیمت مجموعی حداقل مبلغ(۱۳,۷۹٦,۰۵۰/۲۳) سیزده میلیون و هفتصد و نود و شش هزار و پنجاه اعشاریه بیست و سه افغانی و قیمت مجموعی حداکثر مبلغ (۱۸,۳۹٤,۷۳۳/٦٤) هژده میلیون و سـه صد و نود و چهار هزار و هفتصد و سـی و سه اعشاریه شصت و چهار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشر این اعلان الی هفت (۷) روز تقویمی طورکتبی توأم با دلایل آن به مدیریت تدارکات اجناس ریاسـت تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه، بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۰۹) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه (۵۰) قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنـی عقدقرارداد نبوده والـی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرارداد منعقد نخواهد شد.

موضوع: نشراطلاعیه عام تصمیم اعطاء قرارداد شماره (۰۰۲٤) به شرکت محترم لوژستیکی مسیح افغان.

بدینوسـیله به تاسـی ازفقره (۲) ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشـود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملـی درنظردارد قـرارداد: تهیـه و تدارک(۲۵) قلـم و (۲۱) قلم قرطاسیه باب ضرورت قول اردوی ۲۰۱ خالد بن ولید و قول اردوی ۲۰۳ منصوری از بابت سال مالی ۱٤۰٤.

تحـت شـماره داوطلبـی نمبـر(وزارت دفـاع ملـی-۱٤۰٤-اجناس-۰۰۲٤-۲۲۷۰۱) را به شـرکت لوژستیکی مسیح افغان دارنده جـواز نمبـر (۸۳٦۰۲) به اسـاس امریه نمبـر(۱٤۱۰) مورخ۱٤٤۷/۰۱/۰۵ مقام محتـــــــرم معاونیت اول وزارت دفاع ملی به:

۱- قیمـت مجموعـی حداقـل لات ۲۰۱ خالـد بـن ولیـد مبلغ(۳,۰۷۰,۱٥٤) سـه میلیون و هفتاد هزار و یکصد و پنجاه و چهار افغانی، قیمت مجموعـی حداکثر لات ۲۰۱ خالد بن ولید مبلغ (٤,۰۹۳,۳۲۰) چهار میلیون و نود و سـه هزار و سه صد و بیست افغانی.

۲- قیمـت مجموعـی حداقـل لات ۲۰۳ منصـوری مبلغ(۳,۰۳۷,٦۷۹) سـه میلیون و سی و هفت هزار و ششصد و هفتاد و نـه افغانی، قیمت مجموعی حداکثر لات ۲۰۳ منصوری مبلغ (٤,۰٥۰,۰۲۰) چهار میلیون و پنجاه هزار و بیسـت افغانی، که قیمت مجموعی حداقل هردو لات مبلغ (٦,۱۰۷,۸۳۳) شش میلیون و یکصد و هفت هزار و هشـتصد و سـی و سـه افغانی و قیمت مجموعی حداکثر هردو لات مبلغ (۸,۱٤۳,۳٤۰) هشـت میلیـون و یکصد و چهل و سـه هزار و سـه صـد و چهل افغانی میشود، اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشر این اعلان الی هفت (۷) روز تقویمی طورکتبی توأم با دلایل آن به مدیریت تدارکات اجناس ریاسـت تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه، بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۰۹) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه (۵۰) قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنـی عقدقرارداد نبوده والـی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرارداد منعقد نخواهد شد.

موضوع: نشراطلاعیه عام تصمیم اعطاء قرارداد شماره (۰۰۲۹) به شرکت محترم تجارتی وارث هارون لمیتد.

بدینوسـیله به تاسـی ازفقره (۲) ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشـود اینکه ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی درنظردارد قرارداد: تهیه و تدارک(۸) قلم مواد خوراکه حیوانی باکیفیت ضـرورت مدیریت خدمات وترنـری و زراعت معینیت تامینات تکنالوژی و لوژستیک از بابت سال مالی ۱٤۰٤.

تحـت شـماره داوطلبـی نمبـر(وزارت دفـاع ملـی-۱٤۰٤-اجناس-۰۰۲۹-۲۲۷۰۸) را به شـرکت تجارتـی وارث هارون لمیتد دارنده جواز نمبر (٤۸۸۹۱) به اسـاس امریه نمبر(۱۳۱۲) مورخ۱٤٤۷/۰۱/۰۵ مقام محتـــــــرم معاونیت اول وزارت دفاع ملی به قیمت مجموعـی مبلغ(۱۰,۲۹٥,۲۰۸) ده میلیون و دوصد و نود و پنج هزار و دوصد و هشت افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشر این اعلان الی هفت (۷) روز تقویمی طورکتبی توأم با دلایل آن به مدیریت تدارکات اجناس ریاسـت تدارکات واقع خواجه بغراء مقیم گارد سابقه، بلاک (۵) منزل (۲) اتاق نمبر(۲۰۹) ناحیه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده پنجاه (۵۰) قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنـی عقدقرارداد نبوده والـی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مول الدین عبدالله زاده فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرید الله محبت فرزند حاجی پادشاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسـم محمد پیمان سروری فرزند محمد ناصر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم نـور آغا سـلیمی فرزند عبدالجمیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سید مصطفی موسوی فرزند سید بلال مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم صادق احمدی فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سـید مجید ځاخی فرزند عبدالجمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قربان فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۸۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم خاطره صافی بنت سطان محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ارمان نعیمی فرزند محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اکبر سید الفت فرزند امیر سید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم میر آقا سادات فرزند سید پاد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسـم عبدالخالق طاهری فرزند عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم عبدالنافع حمیدزی فرزند ابراهیم جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدیر گل غمگین فرزند عظیم گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم روخان سـتومان فرزند لعل سعید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۱۳۳۰۶۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سمیع الله غیاثی فرزند خان آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسـم عبدالطاهر واحدی فرزند عبدالواحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حاجی محمد شینواری فرزند شندونی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسـم مهدی حسنی فرزند موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۳۱۱

زخم‌های هموطنان برگشته ...

افغان هرگز نمی زیبد را ، خلاف تمام معیار های انسانی می‌دانند، زیرا حضور، بیش از چهار دهه ، مردم افغانستان در کشور های همسایه و سر مایه گذاری و کار و فعالیت صادقانه شان، پیرامون رشد اقتصادی آنان ، خود پاسخی بر این اتهام ها است که دیگر جایی به بحث و واکاوی ندارد. جنگ هند و پاکستان، همچنان حملات وحشیانه رژیم صهیونیستی و حامیانش بر ایران و جانب داری مردم افغانستان از کشور های همسایه و آمادگی مردم ما از ورود مهاجران آنان در صورت تشدید جنگ، خود گواه این حقیقت است. بنابرین انتظار مردم افغانستان از کشور های همسایه اینست که در راستای اخراج مهاجران افغان از خویشتنداری کار گیرند و بدانند که آن روز ها نزدیک است که به مشکلات اقتصادی خود فایق آییم ، زیرا امضای توافقنامه های اقتصادی در عرصه های مختلف با کشور های منطقه به ویژه آسیای مرکزی ، حمایت از صنعت کاران و ایجاد شهرک های صنعتی، رویدست گرفتن پروژه های ملی و منطقوی ، ایجاد بند های آب گردان، استخراج معادن و هزاران پروژه دیگر که نه تنها در راستای اشتغالزایی مؤثر و ممد است ، بلکه معضل بیکاری را به حد اقل رسـاند، همچنان سبب رشد اقتصاد کشور خواهد شد که در این صورت ، طبعاً هموطنان ما به شکل شرافت‌مندانه به کشور شان برخواهند گشت. اما موضوعی که نهایتاً در شرایط کنونی برای تجار ملی، نهاد های خیریه و در کل شهروندان مهم است، اینست که باید از هموطنان برگشته از کشور های همسایه، با تمام مکانات دست داشته حمایت و دستگیری کنیم ، زیرا هموطنان برگشته ما به یقین که روز های سخت و دشوار را پشت سر گذاشته اند که تکرار و یاد آوری داستان غم انگیز اخراج اجباری هموطنان ما از کشور های همسایه، سودی نخواهد داشت. جزء نفرت و انزجار را بیشتر خواهدساخت.

د روسيې لپاره د افغانستان لوی ...

سـفیر او ځانګړي استازي مولوي ګل حسن حسن، د خپل باورلیک کاپي د روسيې فدراسیون د بهرنیو چارو وزارت مرستیال اندری یوریویچ رودنکو ته وسپارله.سرچینې زیاته کړې؛ ټاکل شوې ده، چې د باورلیک اصل به وروسته د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې د روسیې ولسمشر ته وړاندې شي.

پروژه حفظ و مراقبت بند ...

و فضای همدیگرپذیری به وجود آمده اسـت. در خبرنامه آمده است: بازسازی و تحکیم‌کاری ساحه تحت تهدید بند، اعمار پاور هاوس، ترمیم پایپ‌های خروجی آب، ترمیم دروازه.ها، ترمیم پرچاوه‌ها، نصب سانسورها در بالای بند به منظور چک و کنترول آن، و نصب نورفگن‌های سولری بالای محور بند و سـاخت تعمیر محافظین را شامل می‌شود. قرار است کار ساخت این پروژه تا یک سـال آینده تکمیل و با بهره‌برداری سپرده شود. گفتنی است که هفته گذشته نیز وزارت آب و انرژی کار سه پروژه بزرگ را به ارزش صدها میلیون افغانی در سه ولایت جنوبی کشور افتتاح کرد.

ورود نزدیک به ۴۰ هزار مهاجر ...

ترانسپورت و کمک‌های اولیه، ۳۰ میلیون افغانی پول نقد نیز برای‌شان توزیع شده است. دفتـر مطبوعاتی مقام ولایت هـرات افزوده، مهاجرین یادشـده از طریق گـذرگاه مرزی «اسـلام‌قلعه» از کشـور ایـران وارد این ولایت شـده‌اند. در خبرنامه گفته شـده که: ا.ا. افغانسـتان متعهد به خدمت‌رسانی به مهاجرین عزیز است و هرآنچه در توان داشته باشد، در راه خدمت به ملت خود به‌کار می‌گیرد. مقام‌های محلی ولایت هرات بر حفظ «عزت و آب‌روی» مهاجرین برگشته تاکید کرده و از رسیدگی لازم برای آنان اطمینان داده‌اند.

ایـن در حالی اسـت که پیش از ایـن ورود ۳۰ هزار مهاجر افغان در یـک روز از ایران به افغانستان به ثبت رسیده بود.

کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات ...

به گفته کمیسـیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، روزانه بگونه اوسط ۲۰ هزار مهاجر از ایران وارد کشـور می‌شوند. این کمیسیون افزایش شما مهاجرین و شدت گرمایش هوا را از دلایلی عنوان کرده که به کمک تاجران و بنیادهای خیریه ضرورت احساس شده است.

این در حالی است که در روزهای گذشته نیز شماری از باشندگان ولایت هرات و افراد خیر در این ولایت به کمک مهاجرین برگشـته رفته و از خوراک تا پوشاک برای آنان در حد توان کمک فراهم کرده‌اند.

هلمند کې ۱۰۵ میله وسلې ...

قوماندانۍ د مبارزې مدیریت پولیسو د لښـکرګاه ښار ترخنګ په ځینو ولسوالیو کې کړې، چې یو شـمېر تورن کسـان یې هم نیولي دي. په نیول شویو وسـلو کې ۶۳ تومانچې، ۱۴ کلاشـینکوفونه، درې ثقیلان، درې M٤ ایم پور، ۱۲ بلازن، پنځه کمرشکن، یو کربین، یو پیشه، یو ملیشه‌یي توپک، یوه قبضه راکټ‌انداز، یو خفیف او شاوخوا ۳۰۰۰ مرمۍ شاملې دي.د مسئولینو پر وینا، نیول شوي کسان تر لومړنیو څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته سـپارل شـوي دي. د کورنیو چارو وزارت له دې وړاندې هم ټینګار کړی و، چې امنیتي ځواکونه به د وسـلو غیرقانوني ګرځښت او ترهګریزو فعالیتونو پر ضد خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي.

د بغلان ولایتي روغتون کې ۵ زره ...

ډاکترانو له لوري د زرګونه بریالیو جراحي عملیاتو د ترسره‌کېدو راپورونه ورکړل شوي وو. د عامـې روغتیا وزارت څه موده وړاندې د روغتیایي خدماتـو د وړاندې‌کولو په موخه په یو شمېر ولایتونو کې د نویو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو د فعالېدو خبره هم کړې وه.

د پاکستان حکومت د پي‌او آر ...

د پاکسـتان حکومت دا هم ویلي، چې په دې اړه د وروستۍ پرېکړې تر اعلان مخکې هېڅ اداره د دې ګټګـورۍ کډوالـو پر وړاندې کوم اقدام نه کوي. څو ورځې مخکې پاکسـتاني رسـنیو راپور ورکړی و، چې د هلته د مېشـت «پي او آر» کارت‌لرونکو استوګنیزه موده پایته رسېدلې او تر اوسه یې برخلیک ناڅرګند دی. پاکستاني رسنیو دا هم ویلي وو، چې ښایي د «پي او آر» کارت‌لرونکو موده له دریو تر شپږو میاشتو پورې وغځېږي. دا په داسې حال کې ده، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې له پاکستان او ایرانه د افغان کډوالو راستنېدل په کمسارې توګه زیات شوي او د دغو هېوادونو چارواکو د افغان کډوالو پر ایستلو ټینګار کړی دی.

د باکو له نړیوال بحري بندر ...

چمتو دي او همدا راز یې د وسپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سـوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی ښودلی دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په خبرپاڼه کې دا هم ویل شوي، چې د دې لیدنې پر مهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې ټاکلې، څو د دغه بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ترانزیټ د رامنځته کېدو په موخه موجود امکانات او ترانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.

د ویلـو ده، چې د باکو نړیوال بحـري بندر اوس په کلني ډول د ۱۵ میلیون ټنه توکو د انتقال ظرفیت لري، چې په راتلونکي کې به دا کچه ۲۵ میلیون ټنه توکو ته ورسېږي.

رسیدگی به ۲۷ قضیه حقوق شرعی ...

«احتکار» و ۱۱۸ نشسـت با علمـا، بزرگان قومـی، جوانان، کارمنـدان ادارات دولتی و مجاهدین نیز بخش دیگری از فعالیت‌ها گفته شده است. گفتنی است که تلاش محتسبین وزارت امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر در راسـتای اعاده حقوق شـرعی و قانونی زنان در کشور ادامه دارد.

۳ تن با ۴۴ کیلوگرام تریاک ...

امنیـه ولایت بغلان گفته که افراد یادشـده هنـگام انتقال محموله مـواد مخدر متذکره از ولسوالی «جُلگه» این ولایت بازداشـت شده‌اند. آقای کامران افزوده، این سه تن در نتیجه عملیـات «هدفمند» به دام نیروهـای پولیس ولایت بغلان افتاده‌اند. مدیـر مبارزه با مواد مخدر قومندانی امنیه ولایت بغلان تاکید کرده که پرونده نسـبتی افراد بازداشت‌شـده پس از بررسـی‌های لازم به نهادهای مربوط راجع خواهد شد. او بر تلاش‌های دوامدار پولیس ولایت بغلان در مبارزه با مواد مخدر تاکید کرده است.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 06 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 795

د جهادي مدرسې له علماوو سره د کډوالو چارو د وزیر کتنه

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست مولوي عبدالکبیر د کابل د جهادي مدرسې له مهتمم شیخ محمد ابراهیم سعید او له یو شمېر علماوو سره کتلي دي.

یاد وزارت ویلي، په دې غونډه کې د کابل د جهادي مدرسې مهتمم او علماوو د دې وزارت له همکارۍ مننه کړې او زیاته کړې یې ده، چې د اسلامي امارت په هڅو د مدرسې او نورو ښوونیزو ادارو ګڼې ستونزې هوارې شوې دي.

مولوي عبدالکبیر د مدرسو د پرمختګ لپاره د اسلامي امارت ژمنتیا څرګنده کړې او د لا ډېرو اسانتیاوو برابرولو ډاډ یې ورکړی دی.

د ویلو ده، چې د اسلامي امارت چارواکي وخت نا وخت د هېواد له علماوو او قومي مخورو سره د دوی د ستونزو د حل په موخه غونډې او لیدنې کوي.

رسیدگی به ۲۷ قضیه حقوق شرعی زنان طی یک هفته

وزارت امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر می‌گوید، طی یک هفته گذشته به ۲۷ قضیه حقوق شرعی زنان از سوی این وزارت در کشور رسیدگی صورت گرفته است.

به گفته وزارت امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر، ۱۲ قضیه «ظلم بالای زنان» ۷ مورد «حق میراث» ۴ قضیه «ازدواج‌اجباری» و ۴ مورد دیگر نیز مربوط به «پرداخت نکردن حق مَهر» زنان بوده است.

در خبرنامه آمده که حل‌وفصل ۴ مورد دشمنی و ۲۷ منازعه در ۱۳ ولایت کشور از دیگر فعالیت‌های محتسبین در جریان یک هفته گذشته بوده است.

محتسبین همچنان طی مدت یادشده ۴ جادوگر ماهر را در همکاری با نیروهای امنیتی از ولایت‌های بلخ، غزنی، بدخشان و میدان‌وردک بازداشت کرده‌اند.

بربنیاد خبرنامه، ۳۸ نشست اصلاحی در مورد منع ... ص۳

د روسیې لپاره د افغانستان لوی سفیر د خپل باورلیک کاپي د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ته وسپارله

د روسیې لپاره د افغانستان لوی سفیر او ځانګړي استازي د خپل باورلیک کاپي د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ته سپارلې.

په هغه هېواد کې د افغانستان سفارت پر خپله اکس پاڼه لیکلي چې په مسکو کې د افغانستان اسلامي امارت لوی ... ۳مخ

کونړ کې تښتول شوی ماشوم د کورنۍ غېږې ته ستون شو

د کورنیو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د کونړ په چپه دره ولسوالۍ کې څو ورځې وړاندې تښتول شوی ماشوم د پولیسو ځانګړو عملیاتو په پایله کې له انسان تښتوونکو ازاد شو. د وزارت په خبر کې راغلي، چې د کونړ امنیه قوماندانۍ ځواکونو د ځانګړو عملیاتو په ترڅ کې ماشوم د ولسوالۍ اړوند سیمه کې پیدا او بېرته یې خپلې کورنۍ ته وسپاره. دغه راز امنیتي ځواکونو په دې قضیه کې یو تن نیولی او د قانون منګولو ته یې سپارلی دی.

د یادونې وړ ده، چې امنیتي ځواکونو له دې وړاندې هم په مرکز سربېره یو شمېر ولایتونو کې تښتول شوي ماشومانو د انسان تښتوونکو له منګولو ازاد او خپلو کورنیو ته یې سپارلي دي.

احتمال بارندگی شدید و سیلاب آنی در ۱۵ ولایت

ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی ملکی بار دیگر از احتمال بارش باران‌های شدید و سرازیر شدن سیلاب آنی در ۱۵ ولایت کشور، هشدار داده است.

بربنیاد خبرنامه، ولایت‌های نورستان، کنر، ننگرهار، لغمان، کابل، کاپیسا، پروان، پنجشیر، لوگر، غزنی، میدان‌وردک، زابل، پکتیا، خوست و پکتیکا گواه بارش باران‌های شدید خواهند بود.

در خبرنامه مقدار بارندگی‌ها در ولایت مختلف از ۱۰ الی ۴۵ ملی‌متر، پیش‌بینی شده است.

همچنان در خبرنامه آمده که ولایت‌های شرقی، جنوب‌شرقی، غربی و مرکزی در مدت یادشده گواه تُندبادهای شدید خواهند بود.

سرعت تُندبادها را ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی ملکی از ۵۰ تا ۹۵ کیلومتر در ساعت پیش‌بینی کرده است.

پروان کې د یوه سړک جوړولو چارې پیل شوې

د پروان ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په سالنګ ولسوالۍ کې د نږدې دوه میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د جوړولو چارې پیل شوې دي. د یاد ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول محمد صبور رویت باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه سړک د سالنګ ولسوالۍ په سرتیکچه کلي کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د یو میلیون ۹۸۹ زره افغانیو په لګښت جوړېږي. د نوموړي پر وینا، دغه سړک ۸۱۴ متره اوږدوالی او ۳.۳ متره سور لري، چې د کار په جریان کې یې د سیمې ۱۴۷ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

د یادونې وړ ده، چې د پروان ولایت د سالنګ ولسوالۍ په څو کلیو کې د ترانزیتي سړکونو د جوړېدو چارې پیل شوي او پرمټ یې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

۳ تن با ۴۴ کیلوگرام تریاک در بغلان بازداشت شدند

قوماندانی امنیه ولایت بغلان اعلام کرده که نیروهای پولیس در این ولایت سه تن را همراه با ۴۴ کیلوگرام مواد مخدر نوع تریاک بازداشت کرده‌اند. دفتر مطبوعاتی قوماندانی امنیه ولایت بغلان با نشر خبرنامه‌ای از بازداشت این افراد خبرداده است. ملا محمد نبی کامران، مدیر مبارزه با مواد مخدر قوماندانی ... ص۳

نړۍ څار

حماس پیشنهاد آتش‌بس و آغاز گفت‌وگو با اسرائیل را تأیید کرد

جنبش حماس به آخرین پیشنهاد آتش‌بس امریکا در نوار غزه پاسخ مثبت داده و آمادگی خود را برای گفت‌وگو با اسرائیل به پایان جنگ در نوار غزه اعلام کرده است. خبرگزاری رویترز (جمعه‌شب، ۱۳ سرطان) از پاسخ مثبت حماس به پیشنهاد آتش‌بس، گزارش داده است. این رسانه به نقل از بیانیه رسمی جنبش حماس که در ویب‌سایت این جنبش به نشر رسیده نوشته که با «با روحیه‌ای مثبت» به پیشنهاد ارایه‌شده نگریسته و آماده اجرای توافق بدست آمده با اسرائیل است. توافقی که ظاهراً شامل آزادی اسیران اسرائیلی از نزد حماس و آغاز گفت‌وگوها بر سر پایان جنگ در نوار غزه خواهد شد.در بیانیه حماس آمده است: جنبش حماس مشوره‌های داخلی خود و نیز گفتگو با جناح‌ها و نیروهای فلسطینی را در مورد آخرین پیشنهاد میانجی‌گران برای توقف تجاوز علیه مردم‌مان به پایان رسانده است.

آخرین پیشنهاد آتش‌بس به مدت ۶۰ روز توسط امریکا با توافق اسرائیل اواخر هفته گذشته به جنبش حماس شریک ساخته شد.

سیل های اخیر در امریکا جان ده ها تن راگرفت

در نتیجه بارش شدید باران و سرازیر شدن سیلاب در امریکا حداقل ۲۴ تن جان باخته و ۲۰ تن دیگر ناپدید شده‌اند. خبرگزاری آسوشیتدپرس از این حادثه طبیعی گزارش داده است. به گزارش این رسانه، سیلاب در بخش‌های کوهستانی ایالت تگزاس پس از باریدن مقدار ۲۵ سانتی‌متر باران سرازیر شدن و ۲۰ دختر که در یک کمپ تابستانی بسر می‌بردند در پی جاری شدن آن ناپدید شده‌اند. لری لیتا، از مقام‌های منطقه «کِر» در یک نشست خبری گفته که ۲۳۷ تن از مسیر سیلاب نجات یافته که از این میان به کمک ۱۳۷ تن هلیکوپترها اعزام شده‌اند. الینور لستر ۱۳ ساله دختر نوجوان از نجات یافته‌گان کمپ تابستانی «مایستیک» در مسیر دریای گوادالوپه گفته است: طوفان شدیدی حدود ساعت ۱:۳۰ شب ما را از خواب بیدار کرد. زمانی که نجات‌دهندگان رسیدند، یک طناب بستند تا دخترها از آن گرفته عبور کنند و ما از روی پل عبور کردیم، در حالی که آب سیلاب تا ساق و زانویمان بالا آمده بود. مقامات محلی احتمال افزایش در تلفات سیلاب مرگ‌بار در ایالت تگزاس را رد نکرده‌اند. تیم‌های نجات در حال پیدا کردن افراد ناپدید شده هستند.

غزه کې صهیونیست پوځ ۷۰ فلسطینیان شهیدان کړي

د اسرائیل صهیونیست پوځ له لوري د غزې پر بېلابېلو سیمو وروستیو بریدونو کې لږ تر لږه ۷۱ فلسطینیان شهیدان شوي او لسګونه نور ټپیان دي. چارواکي وایي، دغه بریدونه د جمعې په ورځ ناوخته ترسره شوي، چې د تل ابیب له لوري په غزه کې د جګړې د پراخېدو یوه برخه بلل کېږي.

د روغتیایي سرچینو پر وینا، یوازې ۲۴ تنه هغه مهال شهیدان شوي، چې د بشري مرستو ترلاسه کولو لپاره یې انتظار کاوه. د غزې جنوبي برخه کې، د ال-صبر ښوونځي ته نږدې درې تنه شهیدان شوي، چې دا ښوونځی د بې‌ځایه شویو کسانو لپاره د پناه ځای په توګه کارېده. په خان یونس ختیځ کې هم د خوړو د مرستو د ترلاسه کولو پر مهال ۱۵ تنه شهیدان شوي او شاوخوا ۹۰ نور ټپیان دي. په جلا بریدونو کې چې په رفاه، جابلیا او شمالي غزه کې شوي، ۱۰ نور فلسطینیانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.